# قلم او قیام

د لغمان د ولسي شاعر عبدالرحمن الیسنګاري لومړۍ
شعري ټولګه

PROPERTY OF
ARIC
Established
1989

د لال پاچا آزمون
په زیار
۱۳۷۷ لمریز

# قلم او قیام

د لغمان د ولسي شاعر عبد الرحمن الینګاري

**شعري ټولګه**

PROPERTY OF ACKU
7746

PROPERTY OF ARIC
Established 1989

د لال پاچا ازمون په زیار

۱۳۷۷ل

## کتاب پېژندنه:

PROPERTY


| | | |
|---|---|---|
| نوم | : | قلم او قیام |
| ویناوال | : | عبد الرحمن الینګاری |
| د چاپ کال | : | ۱۳۷۷ل/ ۱۹۹۸ز |
| د چاپ شمېر | : | ۵۰۰ ټوکه |
| خپروندی | : | دانش کتابپلورنځی، ډکي نعلبندي، پېښور |
| لیکګر | : | صدیق الله بدر |

بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

# ډالۍ

د پښتو پياوړي او نوښتګر شاعر ارواښاد ننګيال ته چې د خپراوي په جامه کې يې د دې ټولګې د خپرېدو هيله ګور ته يوړه.

**ازمون**

له درانه اسد الله ساپي څخه يوه دنيا مننه چې د خو نورو ادبي اثارو تر څنګ يې د دغې ټولګې په چاپ کې هم خپله پښتني مينه جوته کړه.

**ازمون**

# د قلم او د قیام شاعر

لکه د خوب خوندې مې یاد شي چې یوه ورځ هغه وخت چې نوی زلمی وم زموږ له کلي څو کلي اخوا چیرې واده و . د هغه کلي لاره زموږ پر کلي تېریده او په دې لاره به زرګونو خلک زاړه او ځوانان ډلې ډلې واده ته روان وو. واده ته یې د لغمان تر ټولو مشهور سندرغاړی رابللی و. زموږ د کلي نږدې ټول ځوانان او زلمیان واده ته روان وو خو موږ ته د تللو اجازه نه وه. موږ به د هر چا ودونو ته نه پرېښودو.

زه او زما د تره زوی چې ګل الرحمن نومېده او دواړه سره ملګري او همزولي وو سره سترګې دیره کې پر کټونو ناست وو او یوازې د خلکو او ځوانانو د تللو راتللو ننداره مو کوله، په زړه کې مو یو لوی غم ځاله کړې وه او خپلو بې وسیو ته مو ژړل. په همدې وخت کې الینګار جي له کوره راووت څو د تره زامن یې له ځان سره ملګري کړل او د واده په لور روان شول. مخوی چې زموږ له خوا نه تېریدل، ګل الرحمن په ژړا شو او زما ستونی هم راوپړسېده، الینګار جي شاته راوکتل او موږ ته یې پام شو. په زړه یې خدای ج رحم اوبه وڅښولې او موږ یې هم له ځان سره ملګري کړو. کله چې د واده ځای ته نږدې شو ومو کتل چې

لومړی

په زرګونو خلک د ټنګ ټکور له محفل نه راتاو دي، په سلګونو کټونه اېښودل شوي او ټغرونه غوړول شوي. د تمام مشران په کټونو، ځوانان په ټغرونو ماشومان د ونو پر مناخونو او ښځې د بامونو پر سرونو ناست دي. د خلکو د ګڼې ګوڼې په منځ کې سازیان په ساز لګیا دي او یوه سندرغاړي ارمونیه په غاړه کې اچولې او سندرې وایي. کله چې موږ محفل ته نږدې شوو نو ساز بند شو، بیا سازیانو او سندرغاړو په ساز کې د سلامي نغمه وغږوله. کله چې د سلامي نغمه پای ته ورسیده سازیان او سندرغاړي ټول له ځایونو راپاڅېدل، لاسونه یې په خپلو سینو کېښودل او الینګارې ته د احترام او مخصوص درناوي په ډول په ملا کاږه شول او لکه په لمانځه چې ولاړ وي هسې یې د هغه درناوی وکړ.

په همدې شېبه کې چې سندغاړي لاس په نامه ولاړوو، په زرګونو تنه ننداره چیان هم راپاڅېدل او د الینګارې عزت یې وکړ. بیا الینګارې د هغوی خواته نږدې شو او د هغوی د درناوي مراتب یې ومنل. د لغمان په هنرمندانو کې دود داسې و چې هغوی د درناوي مخصوصه نغمه چې سلامي ورته وایي یوازې یې محفل ته د پادشاه یا سلطان په راتلو او یا خو محفل ته د شاه «نړوم» په راتلو غږوي خو په محفلونو کې له دې پرته دا نغمه یوازې الینګارې ته غږول کېده او دا ځکه چې الینګارې د دوی شاعر و او د لغمان د اولسي شاعرانو تر ټولو لوی، منلی او غوره شاعر.

*

دویم

# دالینګاري

## ژوکړه او ژوند

استاد عبدالرحمن الینګاری د مولوي سید نور زوی، د نور احمد خان لمسی او د عبد المحمد خان کړوسی دی. په ۱۲۹۹ لمریز کال د لغمان ولایت د الینګار د درې د بچرام دکلي په یوې ځمکوالي او روحاني کورنۍ کې را زیږیدلی دی. لومړنۍ زده کړه یې په لغمان کې له دیني عالمانو او له خپل مشر ورور لوی مولوي صاحب عبد الحی حنفي کړې. په ۱۳۲۴ لمریز کال یې کابل کې د ښوونکي مستعجل کورس ولوست او په همدې کال کې د لغمان ولایت د ترګرېو په ښوونځي کې د ښوونکي په توګه ومنل شو او اووه کاله یې په نوموړي ښوونځي کې دنده سرته ورسوله بیالس کاله دکونړونو په ولایت کې ښوونکی و، له لسو کلونو وروسته بیرته لغمان ته تبدیل شو او لس کاله یې د لغمان په ښوونځیو کې د ښوونکي او سرښوونکي په توګه دنده سرته ورسوله، خو چې په ۱۳۵۱ لمریز کال جبراً تقاعد ته سوق شو. کله چې په ۱۳۵۳ لمریز کال د سردار محمد داود کودتا وشوه په افغانستان کې د هغه رژیم پر ضد د افغانستان د اسلامي نهضت د نسلوالي مبارزې پیل شوې، مولوي صاحب حبیب الرحمن دالینګاری ورور چې د اسلامي نهضت سرلاری و، په ۱۳۵۴ کال کې یې د لغمان ولایت پر وسلوالو ځواکونو برید وکړ او د لغمان د امنیه قوماندانۍ په ګمنونو یې بیو

دریم

شمير حکومتي ودانۍ ونيولې . مولوي حبيب الرحمن د همدې پېښې پر سبا د پوليسو له خوا ونيول شو او کابل ته يووړل شو، چې بيا وروسته په ۱۳۵۶ لمريز کال کې د دوو نورو ملګرو سره اعدام کړای شو .

د شهيد مولوي حبيب الرحمن له نيول کېدو سره سم د هغه پلار مولوي عبدالحی ترونه يې حاجي عبدالحنان او عبدالرحمن الينګاري ، ورور يې فضل الرحمن او د تره زوی يې ګل الرحمن هم ونيول شول ، الينګاري له خپلو ورونو سره درې مياشتې په لغمان کې بندي و او فضل الرحمن او ګل الرحمن په لس لس کاله قيد محکوم شول چې بيا د نور لږ کوټا څخه وروسته د څرخي پله زندان کې په شهادت ورسېدل .

عبدالرحمن الينګاري د ۱۳۵۸ کال د وري د مياشتې په اتلسمه نېټه د امين د رژيم له خوا ونيول شو چې له څه مودې وروسته يې هغه هم په شهادت ورساوه له الينګاري نه څلور زامن د احسان الله ، فيضان الله ، ريحان الله او عرفان الله په نومونو سره او څلور لورنې پاتې دي . د هغه دوه زامن احسان الله الينګاری او ريحان الله الينګاری د خپل پلار په پله روان دي او شاعران دي .

# د الينګار شاعري

لغمان خوهسې هم د شاعرانو کور دی او داسې کلی او بانډه نه شته چې په هغه کې دې شاعر نه وي . خو د دې شاعرانو ، بيا په تېره د اولسي شاعرانو په ډله کې الينګاری بيا ځانته بېل ځای او مقام لري .

الينګاری ، فرهنګي او ټولنيز ، سياسي او مبارز او د روحاني او

ځلورم

قومي ننوتل خاوند و. همدغه ټولو خبرو لاس سره یو کړ او د هغه د شاعرۍ په اړخونو یې ژوره اغېزه وکړه. هغه ټول ژوند د پښتو ژبې ښوونکی پاتې شوی و او د پښتو ادبیاتو ژوره مطالعه یې درلوده، نو ځکه د هغه شعر او له شعرونو څرګندوالي باید د لغمان د اولسي شاعرۍ پګړه جوړه کړې وای چې جوړه کړې یې ده.

الینګاړي د پښتو شعر په نویو قوالبو کې خپله طبع ازمایلې او شاعري یې پکې کړې ده، هو هغه خپل د نویو شعرونو سندرغاړو ته لیکلي او لږ شمېر د صهاد په مطبوعاتو کې چاپ ته رسېدلي دي.

الینګاړي له چاربیتو، داستان، مخمس او د شعرونو له نورو فورمونو پرته په غزلیزه شاعرۍ کې هم د پام وړ ځای لري. د هغه لږ شمېر غزلې د هغه وخت له نویو ښو او منلو شعري اثارو څخه دي، وګورئ:

خدای دې خیر کړي نن دې ولې خیالي ګربانه لانده دي
ودې ګرځم د زړه سره حیا ویلي درته څه دي
ستا د سترګو مد وجزر مې د زړه کشتۍ کړه ډوبه
د دریاب د غاړې ګل یم عاقبت مې غرقیده دي

او یا خو:

نجونې سترګې مې د مینې د سودا ننبر ده
زیبنلی رنګ مې د خوبانو د جفا ننبر ده
یو خوا ته هجر بل خوا وصل نیمراهي کړمه زه
رواج د ترګولي نن هغه د سبا دا ننبر ده
پښخم

څو صفحې چې د الینګار ي په شعرونو کې ډېر جوت دي د هغه ملي او ټولنیز ارمان دی او د ټولنیزو نادودو پرضد د هغه د ژبې او قلم قیام دی او همدغې خبرې د افغانستان په ټوله ختیځه سیمه کې له الینګار ي نه الینګار جوړ کړ او د هغه شعرونه د لویانو او وړو پر ژبو را شنه شول :

زمونږ ځیني غټان ـ سره لوی میلونران
بانکونو شرکتو کې لري حق د اولیت

خواخوږي د ملت

په مرګ دې رانیولي
په درد دې راضي کړي
جامې دې ترې ایستلي
اوبه دې خوړې کړې ښکار دې کړي د ماهیانو

ماهي جالوانانو

دا څنګه ورور ولي ده
دا څه عزیز ولي ده
دا څه پښتونولي ده
په چل او په فریب دې تالا کړي دي کورونه
افسوس ورور وره پښتونه

شبنم

چالاکه حیله بازه یې
په هر قالب کې ساز یې
په دې کار کې استاذ یې
د کوم مکتب شاګرد یې دا تعلیم د چا که دی چا ده

زما په کې سودا ده

*

## دالینګاړي

# دشعرونو دا غونډ

په خوا شینه سره چې له الینګاړي مونږ ته لیکلې شاعري نه ده را پاتې کله چې د هغه پر کوره او کوروڼه د وخت پولیسو غوبل جوړ کړی و، د هغه ټول کتابونه او د شعرونو کتابچې یې له هغه سره یوځای له ځانه سره یوړې او له هغه سره ووړل شول او ورک شول.

خو موسیقي بیا په تیره د اولسي شاعري تر ټولو غوره ارشیف دی. او د پښتو نړۍ ځوان او نوښتګر شاعر، پر پښتو او پښتونولۍ مین زړه‌ګیالي ښاغلي لعل پاچا ازمون د همدې (ارشیف) له لارې د الینګاړي دیو شمیر شعرونو دا نسخه

را برابره کړه او د الینګارې شعرونه یې د محمد نور د شعرونو په څیر له سرینې او هیرې نه وژغورل چې نه ورته د دې دیره ورکوټې فنه هنګې په توګه هم او د شهید استاد الینګارې د کور لخه د غړي په توګه هم کور ودانی وایم.

اوس هم دومره

اسحاق ننګیال

لغمان (۱۳۷۷/۱/۳۱)

اتم

# دا ټوټکه او ننګیال

دارواښاد البشاري له شاعرۍ سره ان له کوچنیوالي بلد دی، دده شعرونو ته يې د لغمان د اولسي سندرغاړو: (پاینده محمد، ګلکي، ملاګي، لرځولو ډېر اوریدلي) د نورو ولسي شاعرانو د شعرونو د پیداکولو په ترڅ کې يې د دغه شاعر د شعرونو په راټولولو ان له ۱۳۷۰ لمریز کال را پدېخوا متې را بډ وهلي دي. خپله هیله يې په هماغه وخت کې له ارواښاد ننګیال صاحب سره شریکه کړې وه. نو له هماغو کلونو راپدېخوا يې ایله دا شعرونه د لغمان د ولسي سندرغاړو (پاینده محمد، ګلکي، ملاګي، له خولې وکښل بیا يې دا شعري غونډه د کتنې لپاره د لغمان وتلي او پېژندل شوي شاعر عاشق الله فریاد ته ورکړه، هغه د خپل لوري له مخې د دې شعرونو په کتنه کې ځان ستومانه کړ. بیا دا ارواښاد الینګارې زوی فیضان الله فیصل لې را سره د خپرولو - ونده وکړه. خو حالات داسې راغلل چې هغه لې د دغه غونډه خپراوي ترجیح نه کړه. د دوستي ځل لپاره مې د الینګارې د شاعرۍ دا نېمګړې غونډه د پښتو ژبې پیاوړي او نوښتګر شاعر ارواښاد ننګیال ته د لیک لپاره لغمان ته یوړه، هغه پرې هراړخیزه بسریزه وکښله. د روان کال د غویي د میاشتې په ۸، نېټه مې له هغه سره د پېښور د بي بي سي په دفتر کې لنډه وکتل او له هغه مې په تونده او د ګیلو په ډکه ژبه د لیک غوښتنه وکړه. هغه را ته له خندا شین

دهم

شو بیا یې راته وویل : پیرجانه ما سریزه درلیږلې، ته چې څنګه د ننګرهار د اطلاعاتو او کلتور ریاست ته ورسیدې نو په لاس به دې شي. بیا یې جیب ته لاس کړ او د الینګار د ګار ي اخوا ریې راته راکړه تري رخصت شوم، سبا ماسپښین مې بیا د هغه څوانمرګ د مرګ واوریدل، هغه هم په ډیر فقر کې مړ شو، دوه ورځې وروسته چې له پېښوره بیرته راستون شوم نو د ننګرهار د اطلاعاتو او کلتور ریاست ته د رسیدو سره سم د اروابناد ننګیال له مرګه وروسته لیکو نه په یو پاکټ کې را ورسیدل. هغې شیبې ډیر ودردولم چې پر پاکټ په خپلو ګوتو کښلي وو : د ننګرهار په ورځپاڼه کې دې ازمون صاحب ته ورسیږي. ننګیال.

پاکټ مې په مړاوو ګوتو پرانست، لومړی یې یو واړه لیک سترګې ولګیدې چې کښلي یې وو : هــوالله

ګران ازمون صاحب!

زما سلامونه او نیکې هیلې ومنه!

دا دی د الینګار ي صاحب د مجموعې سریزه مې درته درولیږله هیله ده چې در ورسیږي. د هغه عکس به زه هیواد مل صاحب ته ورکړم له هغه به یې واخلې. نور ستا صحت او سلامتیا غواړم، پر دو ستانو مې سلامونه وایه.

ومن الله توفیق

ستا ننګیال

دا اروابناد ننګیال په فرهنګي ډګر کې د اوروستي لیک وچې د اروابناد

لســم

البنګارې پر ټولګه یې کښلی و. د هغه ارمان داو چې د اروابناد البنګارې ټولګه یو ځل ووینې مخدای[1] مشته چې زه یې د دغې ټولګې را ټولولو او نشرولو کښنوته ډیر ستایلی او هڅولی یم. زما په غیاب کې یې په کلي کې ټولو کلیوالو ته ډیرې ستاینې کړې وې او دې نیمګړي کار ته یې د قدر په سترګه کتلي وو. نو د ډیرې خواشینۍ خبره داده چې د تنګیال ارمان د اروابناد البنګارې د ټولګې په لیدلو پوره نه شو.

زه د دغې ټولګې پر شعري ارزښت نه غږیږم، ... د دغه کار نیمګړی بولم ځکه چې د اروابناد البنګارې ډیر شمیر شعرونه ځای ورو ځوړل. نو موږ هڅه وکړه چې دا راپاتې شعرونه یې درکه نه شي. زه د دغې ټولګې د سپړولو لپاره د اروابناد البنګارې د شعر میان دا بولم.

په پای کې له درانه فرهنګیالي، ځوان شاعر صدیق الله بدر څخه یوه دنیا مننه کوم چې د دغې ټولګې د لیک په چارو کې یې ځان ستومانه کړ.

په شاعرانه ولولو

لعل پاچا ازمون

د ۱۳۷۷ کال د غویي ۲۹مه

کابل - عمومي بڼ بول

بري درملتون

یو ولسم

# مقام

ترجمان مې د دردمن زړګي قلم دی
د کتاب په مشغولا مې غلط غم دی

شعر نه دی خاطرې د ښو دلبرو
خوشبويي مې په کلام کې د صنم دی

ما خپل زړه په جهان بين جام کې کتلو
ما ته سپينه خوله مثال د جام و جم دی

اشنايي د نازنينو نازک خيال کړم
ښکلي مخ الينګارې ته محترم دی

# مقام

د دنیا تاجونه جار شه ستاله شانه
لوند به اوښو د مظلوم خیري ګریوانه

چې له درده به يې مخ مینځلی نه وي
خوښ يې نه دی که ښایسته وي له سبانه

چې د قام په درد ونه ژړېږي سترګې
مناسب نه دي چې وباللی شي حیانه

هیڅ قیمت نه لري ما الینګاري ته
هغه سر چې وي خالي د قوم سودانه

# غزلیں

یوځل بیا قسمت راپیښ کړم دخوبا نو په دیرو کې
قدم په قدم چې رنایي شوه ځبو نو کېښنوم ورېلو کې

کاتبان دحسن ناست وو د دعوت رقعې یې لیکلې
چاتړې وعظ کاوه دملو ځوک یراته وو سرولمبو کې

نوې نوې اشنایي وه نوې نوې صفایي وه
نوې نوې ارزوګانې نوې خیال و په مغزو کې

طالعمن نه یم نو څه یم چې خدای پېښ کړم په ګلرنګو
نر مې شونډې مو سیدلې عجیب کیف و یې لېدو کې

د بلبلو ژبې غواړي معشوقې الینګاریه
د قلم پر ژبه کله آب و تاب وي په نغمو کې

خدای چې زما سترګې ستا د حسن خریدارې کړې
ملته مې په مینه ستا د سترګو خدمتګارې کړې

تا چې په خوږو سترګو د مینې اشارې وکړې
ما دې هر قدم ته جوړې سترګو باندې لارې کړې

تا چې د مغرور حسن اعلان په هره خوا وکړ
ما د ارزګانو قافلې ورته لېوالې کړې

ستا ښېښتنو سترګو ښېښتنې وعدې راکړې وې
اوس دې ولې شپې ورځې پر ما باندې دشوارې کړې

پاکې ارادې الېنګارې په احترام سره
تیغ د سعادت ته ستا په مینه کې تیارې کړې

نمجنې سترګې مې د مينې د سودا نښه ده
زبېښلي رنګ مې د خوبانو د جفا نښه ده

داشنا مينه بېلوي سړي له کوراو کلي
دفتر د عشق کې د مجنون دشت رسوا نښه ده

يو خوا ته هجر بل خوا وصل نيم رڼي کېږه زه
رواج د ترکو کې نن هغه سبا دا نښه ده

وړې وړې سلګۍ وهه اليـنګار يه ژاړه
ما فال کتلی ستا په برخه د ژړا نښه ده

دا جلوه د خنډو خال ده د اشنا په مخ
که افتاب دی راختلی د سبا په مخ

په سپین مخ د جانان توري زلفي پرېوتي
که د شپې پرده خوره شوه د رڼا په مخ

په قسم سره دي مخ ته غټې کتی نه شم
که پرده ده غوړېدلې د حیا په مخ

څه غوټي غوټي خولې د یار په مخ راغلي
که شبنم دی وریدلی د لالا(1) په مخ

سر سر تور شیرې ګریوان الینګاري راځي
که دلبر را ته وګوري د وفا په مخ

(1) لالا - لاله

خدای دې خیر کړي نن دې ولې خیالي گر بانه لانده دي
ودې گرځم د زړه سره چا ویلي در ته څه دي

محترم مزاج دې ولې رنجیده او آزرده دے
طبیعت دې توپاني دی د عاشقو قتلیده دي

ستا د سترگو مد وجذر مې د زړه کشتۍ کږه کړه
د دریاب د غاړې گل یې عاقبت یې غرکیده[1] دي

سرمایه ئې ژوندانه مې نور څه نشته بې له تانه
هر ثبوت الینگاړي ته ستا د دوه سترگو کاته دي

(1) غرکیده - غرقیده

دانسان کمال په علم او په ادب دی
نه په مال نه په دولت نه په نسب دی

خاموشي د ښه عیبونه پټ کـــا
د هوښیارو خلکو تینګ د خولې جلب دی

پر بازي قطعه بازي ساز و سرود کې
په چلم جنګ وجدل لاخه منصب دی

د شاعر کلام که هر څو مره شیرین دی
د بې باکو په نظر لهو لعـــب دی

سنګین خوی ښکین اخلاق چې چاکې نه وي
انسان نه دی د هر چا په شان غضب دی

له هغو خلکو جاربزه الیــنګار یــه
چې لوستي درس د پوهې په مکتب دی

په کوم قوم کې چې پیدا فکر د کار شي
غم یې نه وي وطن ټول گل و گلزار شي

سعادت او بقا د واړه وي په کار کې
هر اولس چې شي بیکاره خوار وزار شي

څوک به خپلو زمکو جوړ کړي محلونه
د چا زمکه چې خاره پاتې شي خار شي

په بوره گل هرگز نه پسرلی کیږي
سم وغړ چې شي خوشبویه نوبهار شي

د هرچا عمل د خپلې لارې مسل وي
څوک په خپل عمل بزرگ څوک گنهکار شي

دا مثل دعا چې کړې هغه به ریبې
«اغزي مه کره په پښوکې به دې خار شي»

مردان هغه دي چې بار د نورو جګ کړي
نه په خپله په اوږو د خلکو بار شي

چې کمال د رنګ و بوی په ګل کې نه وی
ځای یې کله د دلبرو په رخسار شي

عاقبت به یې څلور فصله بهار وي
چې زامن یې د رښتیا و خدمتګار شي

چې د وخت اهمیت و نه شي پیژندلی
پسرلي ورځنې تیر هزار هزار شي

د اولاد په ښو او بد و مسؤل نه وي
د لمد و لښتو نه هر شکل اختیار شي

تل راست خلکو ته راست واوسه په ژوندکې
بې خبره شي رفتار چې سمه لار شي

رحماني جذبه چې نه وي په کلام کې
تاثیر نه لري بې خونده یې اشعار شي

ستا قدرت ته د کلام عبدالرحمانه
د فکرونو غاړه ما ته دانسکار شي

ستا د قوم په احترام مشاعرې ته
را روان الینګاری له الینګار شي

څوک چې مینه کې د میني په رنګ رنګ شي
پټ د درستا جهان باچا ظاهر ملنګ شي
قلندر شي کوم پټکی یې وي تر سر لسی
له عیارو تظاهر څخني په خښنګ شي
هر څه عوارې د دلبرو په رخسار کې
افتخار ورته د میني نام و ننګ شي۔
هسې لویه داریې یې په نصیب شي۔
چې تاریخ د سرو او سپینو ترنګ ورنګ شي
د دوحه په غاړه ناست وي په وقار کې
بې پروا له شاجهانه او اورنګ شي
لوی جهان د میني غواړي په جهان کې
کمون وکلې پیینور ورباندې تنګ شي
په یوه قدم تر عرش پورې رسي
چې د نفس اماره سره په جنګ شي
خوشبو یې یې د کلام شي دومره ګرانه
چې یې پاس په سینه ځای لکه لونګ شي
په ساده کلام خپل دومره عالمګیر وي
چې جاري یې خاص وعام باندې قلنګ شي

سوزان شعر به یې ولې سوزان نه وي
چې د عشق په اور ستې لکه پتنګ شي

د سینه خوی له برکته او همته
بې پروا له هر بد خوا د تخت و جنګ شي

هر کلام یې چې د یار له یاده نه وي
په فضا کې د ادب یې خوا آهنګ شي

چې یې سر د فقیرۍ په بالښت کښېښود
بیا یې خوب په کیمخواب نه په پالنګ شي

لوی پیښوا او رهنما وګرځي عشق کې
بې د ده له لارې هره لار ګړنګ شي

داسې وایه مقام هله الینګار یه
چې حاصل کې زړه و نه پاک له خیر و زنګ شي

چې د عشق په کیمیا کې څوک سره زر شي
کوږ پټکی یې وي تړلی قلــــنـدر شي

یو قدم یې دی په زمکه بل اسمان کې
سلطنت یې هم په بحر وهم په بــر شي

په فضا کې یې روزنه د بــقا وي
چې اسمان کې یې مقام لکه د لمر شي

خرابه او ویرانه یې وي ګنـــجونه
ډیر قصرونه یې قربان له ببر ســـر شي

له دلبرۍ نه یې هر څه صدقــه وي
ښه خو دا ده چې لا خپله هم دلبر شي

په دنیاکې چې د مینې د دنیا نه
آرام نه مومي پرې تنګ به پېښور شي

بې پروا وي له جملو هنرونو
چې په برخه یې تقوا د ګنج هنر شي

اورنګ زیب او شاه جهان یې سیالانو ي
په شرف د فقیرۍ چې مفتخر شي

نمونه د عارفانو له عرفانه
د بابا عبدالرحمن د شعر دفتر شي

په رښتیا د دانایانو په نظرکې
هر کلام یې د اخلاص د ګوهر شي

تر قیامته یې دیوان الینګار یه
په دریاب د شاعرۍ کې لوی سنګر شي

# گیتی

# د نارنج گل

پسرلی راغی نوو نوو ارزوگانو سره -
د ښکلا زیری ورکوي نارنج گلانو سره -
د هر موسم طبیعت بیل او تقاضا بیله ده
پسرلی ، اوړی ، منی ، ژمي کې معنی بیله ده
ناز و ادا شوله بدله له خوبانو سره
پسرلی راغی نوو نوو ارزوگانو سره
څه ښه هوا د پسرلي موسم دکښت وکار دی
ملا د همت تړه د هقانه وخت دکار وزیار دی
په بیکاریه او تنبلی کې ژوندون خوار وزار دی
ای د شلم قرن انسانه بیکاري اوس عار دی
برکت ملگری د حرکت وي د زور گاره سره
د رنگ او بوی قافلې راشي د بهاره سره
داسې تود والی چې ژوندي گښي رگونه د تن
احساس مې وتخنوه پوه مې که د مینې په فن
زمونږ په سیمه باندې راشه گلرخانو سره
پسرلی راغی نوو ارزوگانو سره

لږ تحول زموږ په حال او په ژوندون راوله
په ارادو کې یو مثبت غوښتې بدلون راوله
زموږ په ګډه ودو چارو کې سمون راوله
یو معنوي پسرلی بل راکې ګلګون راوله
خوا خوږي وکه کونډو رنډو یتیمانو سره
پسرلی راغی نوو نوو ارزوګانو سره

* * *

هغه جهان چې نه خزان او نه توپان ولري
په دې جهان کې بل دمینې لوی جهان ولري
د رنځورانو د صحت دارو درمان ولري
په بیچارو و شفقت فضل احسان ولري.
الېنګاري یې غواړي خدای نه دعاګانو سره
پسرلی راغی نوو نوو ارزوګانو سره (۱)

---

(۱) نارنج ګل، ګډ شعري غونډ، ۱۳۵۰ لمریز کال، ۱۴۰ مخ
دافغانستان اکاډیمي، د پښتو انکشاف ریاست، دولتي چاپخونه

زینت د انسانانو دی د علم په ژوندون
راځۍ چې ځان خوشبویه کړو د پوهې په صابون

فضا د کاینا تو کې د علم غلغلې دي
په سائنس په تخنیک کې د بشر مسابقې دي
حیران ورته پاتې فلسفه د افلاطون

د عقل په رڼا سره د علم په دنیا کې
انسان یې خوشې کړی لا یتنهایي فضا کې
دوری کوي د ستورو په راکټو او په بالون

د فکر حرکت زغي پیدا شوی هره خوا کې
د کار رګا د غزیږي نن د ژوند په سیما کې
د علم لیلا نا سته انتظار کې د پښتون

هر چا که ستر ګي خلاصې کړې په علم په هنر
جاري یې حکمت دی هم په بحر و هم په بر
نور ځګ که الینګا ربه س د فکر له زنګون

پو یره توري زلفې په سپین مخ باندې سیزل وکه(۱)
کینه آیینې سره د حسن جنگول وکه

ستا په اشاروکې څه خوازه رنځونه دي
تانه د اسمان ستوري زده کړي سترګکونه دي
راشه په ملالو سترګو بیا د ناز کتل وکه

وغړوه سترګې زړونه و باسه ګوګل څني
سرې منګولې تاوې که خورې ورې وربل څني
وخانده موسکی شه غوړیده لکه د ګل وکه

پورته که پلو له مخې خوی د معشوقېو وکه
سترګو کې خبرې ګونګوسې لکه د غلو وکه
وګوره په مینه بیا د مینې تخنول وکه

راشه چې دې وګورم په ښه مینه رضا سره
څنګه ښه ساعت وي چې اشنا ګوري اشنا سره
ما الینګاري سره د سرو شونډو ویل وکه

(۱) وکه - وکړه

چاله آزاره وړي نه دي بازارونه
یاره مه اخله آزارونه

دنیا په مینه ده وداني مرور مه ګرځه جانانه
کله ناکله دي رالیږه سلامونه

د زړه تسل مي به تاکیږي ستا مي خوږي ولږي خوږیږي
واشه پخلاکه مرور داغلي زړونه

دا به د عشق تقاضا وي چې خوبان واړه بې پروا وي
الینګاریه دا د ښکلو دي نازونه

وخوږم غمجنې د نیا وخــــــوږم

ډیروانديښنو و ســودا وخــوږم

ډیر په درد بیدلو دردیدلی یم    اوښکو د مظلوم ډیر ژړولی یم

ظلم وتجاوز نـــا روا وخــــوږم

هرې خوا ته ګورم بل اوروونه دي    سوزې ارزوګانې شنه دودونه دي

ډیرو ناروا و تـعـدا وخـــــوږم

هرې خوا ته ګورمه دنیا ګـــورم    خدایه دا دنیا ده که بلا ګـــورم

وتښتمه ګوم خوا بلا وخــــوږم

مړاوې ارزوګانې مې تازه نه شـوې    اوښکې حقیقي مې ایستاده نه شوې

ډیر دې تظاهر و ریا وخــــوږم

نور و سره هر رنګ هوسونه شته    ما الینګاري سره غمونه شتـه

غم د غنم رنګې لیــلا وخــوږم

ولې دلګیر یې اشنا مزاج دې وران وینم
دا ګلابي خیره دې خزان خـــزان وینم
په زړه دې څه تیر شوي چا لمسولی یې
رقیبو څه ویلي چا دردولـــی یې
ږلحه ږلحه اوښکې دې په مــخ بــاران وینم
سترګې دې سرې وینمه زما شیرینه یاره
لکه د سوي پاڼه ریږدي له ډیره قاره
ږیره ږیره شونډې د زړه تـــوپــان وینم
زما شیرینه یاره هیڅ وخت دلګیر نشي
د یا راڼې په ترخ کې په زړه زهیر نشي
الینګارې دې غم کې سترې ستومان وینم

ننګیالی ځوان یم د ننګ په ویلو مې بنایسته دي تاریخونه
تاریخ په ننګ زما شاهد دی پلار و نیکه مې مجاهد دی
ما په دنیاکې د ننګ پرېښي یادګارونه

ننګ و غیرت زما ګاڼه ده د پښتون د غم ترجمه ده
که باور نه کړې ور شه ګوره کتابونه

ما چې په چا کړی ګوزار دی وجود یې اوس هم ناقرار دی
په غلیمانو مې رنګ کړي دي ملکونه

په ننګ کې و مرم افتخار دی بې ننګه ژوند پښتون ته عار دی
چا په بې ننګو د وړلي بیرغونه؟

د چا چې ننګ و همت کار دی الیګاری یې خریدار دی
بیخ چې شي نه شي د بې ننګو په لاسونه

PROPERTY OF ACKU
7746

# لبي

PROPERTY OF JUDAICA

اشنانه ګوره چې په څه ناز ونخرو راځي

له دنګو غرو راځي      د عرش له سره

لکه هوسۍ له هسکو غرونو په تمو پسو راځي

په شونډو وسرو راځي      د عرش له سره

زلفې تارتارې لرې      سترګې خوماري لري      لبې ابداري لري

نن مې ترغوږه شرنګ ویرنګ یې د پالو راځي

څه په ورو ورو راځي      د عرش له سره

منګولې سرې ګرځوي      زلفې خورې ګرځوي      ورو ځې لینده ګرځوي

ناز وآواز یې د موسکا له شونډو وسرو راځي

څه په ورو ورو راځي      د عرش له سره

چې اشناو ګورې خپل      بیاکوې زیروزبر کتل      په کتارود وربل

لکه چې زړه یې لاس ته د راتللو راځي بیا

د کینا ستو راځي      د عرش له سره

کینې د سینه ترغاړه      ګوره هرخوا ملاله      وایي عاشق ته زاړه

چې ګل غوړیږي نو بلبل په چغیدو راځي

په ګرېدو راځي      د عرش له سره

الینګارې په جګر      وتلی وماز یګر      ویې لید سنګلی بشر

ځکه په زړه یې چپاونه بیا د غرو راځي

د عرش له سره

ورېل يې جوړ کړ اروپا يې فيشن کوينه ـ بيا به څوک حلالوينه

زلفې نن مخ باندې خورې کړي ـ شونډې يې پانو باندې سرې کړي
تاسو يې ګورئ څه د ناز لـوبې کـوينه.

څوله نخره ده دوک له خياله ـ په مينه مينه ګوري خـــواله
لکه د زړکي په شان سرې منګولې څينه

له ګل نازکه ده نازولې ـ د ناز په غيږ کې ده لوئيدلې
د معشوقو په قانون سترګې رېوينه

د ښکلو مينه نه ده اسانه ـ ګرانه ده ګرانه جـانانه
الينګاري يې د ګرانښت اعلان کوينه

# داستانونه

په یو وخت کې دوه ګوجر د سین په غاړه
وو ملګري دواړه وو سره همغاړه
ښنو ورشو شنو وښو او شنو ځنګلګو کې
ښه خوشحاله ګرځېده په شنو ورشو کې
دواړو مېښې څرولې هم پېولې
هر یو به خپلې مېښې ښې ساتلې
دوی د مېښو تربیه کې استادان وو
مالداري به یې کوله مالداران وو
مېښې بلاربې شولې وخت یې د لنګوال شو
ګوجر هم د خپلو مېښو پوه په حال شو
د لنګون په شپه یې دواړه څوکېدار وو
خو دا یو ګوجر له خوبه ناقرار و
د غه خوب شولو غالب په ګوجر باندې
سر یې کېښود ه ویده شو بستر باندې
مېښې لنګې شوې بچي یې شو وترې لاندې
ویښ ګوجر ورپسې پاڅېد لاړه وړاندې

مینکښې يې د ویده ګوهر د مینې بو
کړلو بیلې خبروته دې له دې پیښې بو
چې ویده ګوهر له خوبه شو را پورته
برابر يې وکاته د مینې بو لورته
ګورې خه چې مینکښې ولاړ د ده دیے
ده ویل په دغه کار حیرانیده دیے
وینی ګوهر ویل قدرت دا پیښو ینه
نرکښې به زیږوې چې خوب ګوینه

په رښتیا چې څوک بې وخته کړې خوبونه
پسې جوړ شي الینګاریه مستانه

یوه ورځ ډوب وم دفکر په دریاب
څرمې واخیست هم قلم او هم کتاب

په دې فکر چې کتاب مطالعه کړم
د پریشانه زړه غمونه اواره کړم

تر نظره مې شو څه ښکلی مضمون
په لیدو یې شوم بې حده جګر خون

اوس به تیر کړم در ته دغه حکایت
غوږ پرې کیږدئ وروړو وکوئ دقت

یو سړی و نوم یې قیس بن عاصم
مسلمان شو د هجرت کال و نهم

ده ایمان راوړ په پاک نبي سردار
جهالت او ناپوهي نه شو کنار

بله ورځ راغی حضور ته د حضرت
د اصحابو وو ټولي په جماعت

اصحابو ښې ښه وکړله پوښتنه
قیسه ورو ره موږ له تا کړو پلټنه

خلک وایي چې تا هره لور وژلې
په ژوندون دې تورو خاورو ته سپارلې

دا رښتيا وراوکه څنګه حقيقت و
که رښتيا وي نو سنا ولې داعادت و
قيس ويلې په رښتيا مې داکارکړی
اوس دحق ميدان ته دروغ نشم ويلی
تقاضا زما دجهل او جهالت
نه منله داخبره په هيڅ صورت
لور به څنګه زما بل سره جوړه شي
دينه ښه ده چې ژوندۍ په هديره شي
هغه دم چې به له موره زيږيدله
په همدې سبب مې هره لور وژله
چې هرڅومره مې دی لوڼې خپل وژلې
په يوې پسې مې هم نه دي ژړلې
مګريو لورمې زه نه يم درد ولې
چې تراوسه يې په زړه يمه داغلې
هغه داوه چې زه لاړم په سفر
خپل عيال ته مې دحمل وخطر
له عيال څخه مې لور وه پيداشوې
چې زه نه وم دايې تروورکره ليږلې
خيال يې داوچې له پلاره بهرشي پټه
تربيه کې به تروور ګونديې شي غټه

چې شي پيغله پرې به هرڅوك كوي مينه
پلار به يې كله رضا منده شي په مړينه

چې زه راغلم له سفره څخه كور ته
چې مې وكتل د خپلې ښځې لور ته

ما ويل ته وې اميد واره د اولاد ـــ
راته وايه چې دې څه كړ خپل بنياد

ښځې ويلې چې ما لور وه زيږولې
په ژوندون مې تورو خاورو ته سپارلې

ځكه ستا عادت وه مونږه ته معلوم
ژر مې مړه كړه چې پرې به دې نه شي نوم

لنډه دا چې پدې تير شو څو كلونه
پسرلي لور مې وسيل كړلونه

كور ته راغله توري سترګې خيالولې
توري زلفې به يې په مور شانه كولې

ما تپوس وكړ چې دا جلۍ ده څوك
چې د حسن سيال يې نشته په بل توك

جلۍ پاڅيده چې زه يم د ستا لور
هسې نه چې ګومان وڼه كړې د نور

زه چې بوه شوم پردا هسې حقيقت
لور مې بل شو به وجود د جهالت

ما ویل ښه ده نولرم درسره کار
توري خاورې به کړم تا باندې امبار
بله ورځ مې دا راوویسته له کوره
موري نه وه دا په مخ مې کړه سر توره
برابر مې کړله د شتې هدیرې ته
سمدستي مې کړه حاظر د مرګ جادې ته
قبر وویست ما په بیړه په تلوار
بیا مې دا کړه تورو خاورو ته ګوزار
لور مې وویل چې له مرګه نه ګرم ځنګ
دې خبرې ته مې غوږ کېږده یو درنګ
دې ویلي له ما شوې څه ګناه ده
پلاره ولې دې په مرګ زما رضا ده
دې چې هرڅومره کول زارۍ عذرونه
ما کاڼه کړل په خبرو خپل غوږونه
ما د خاورې پرې انبارې کړې ډېرې
تورو خاورو کې شوه ډوبه ترسرې
بیا یې وویل چې زما شیرینه پلاره
لږ مې پریږده چې ساه ووځي په قراره
بیا مې هم د ده خبره وانه وریدله
په سرو سترګو که هرڅومره ژړیدله

په زړاکي ګيلي راته کـــــولي
دې زړلې ما پرې خاورې اړولـــې
لنډه دا چې نازنينه لورمې مړه کړه
د وحشت او ناپوهۍ خوامې سره کړه
خدای خبر چې اوس يم څومره درديدلی
مګر څه وکړم چې وخت راځنې تللـی
بيا سر پورته کې نمونې نـــبي حـــضرت
ته چې دومره په زړګي باندې يې سخت
خدای په داسې خلکو رحـــم نه کـــوينه
که هرڅومره د دوستۍ لاپې وهينه
نه دا ستا غوندې ظالمـــو شفاعت
نه کوم په سخته ورځ کې د قيامـــت
له اسلام څخه پخوا د ومره وحشت و
چې د لور سره سلوک د حيوانيـــت و .

د فقير الينګاري مضمون د غـــم دی
شاګردانو تې (١) ليکلی په قـــلـــم دی

---

(١) - تيمبه تربي

یوه ورځې چېرته تلم چېرته مې کار و
د رخصت د اخستو مې بند و بار و
کله جنګ کله چغلا وې یو تر بله
کله کله د اشنا د لوړې قـــار و
یوناځا یې مې د زنګ آواز تر غوږ شو
او د مکتب د لوړی وخو لکه ښار و
ما ویل زنګ دا د تفریح ذی که رخصت شو
چې کاته مې د رخصت یې بنــد و بار و
د عرفان د باغه و وتل ګلـــــونه
هم د ځانه یې جوړ کړي نن کتــار و
تعلیم(معلم) ا- د جاهل فرق یې همه و سره کولو
داسې حال کې چې صنف ټول په انتظار و
د ه ویل جاهل په دوه قسمه دی ګوری
یو بسیط بل مرکب و دا اظهـار و
چې نه پوه وي نه د چا خبره اوریې
مرته- مرکب دی ګډ څه هم زوی د مالدار و
ما په ډیر احترام و ویل اجازه ده
چې زه هم پوښتنه وکړم زما وار و
او س به هم پښتونستان جوړ شي زرګیه
که هم ټول پښتون روان په یوه لار و
بحث شو خلاص لا پس للن الینګار یه
ته هم لاړ شه چې همغلته دی کــار و

# چاربیتی

یار مي ګڼلي اشنا اوس تګ وختي
سپین ښکاریدلي له ورا له نږدي برګ وختي

ما ویلي په سر مي د بخت باز کینولی دی
د لوړو غرو له څوکو را پریوتلی دی
نن مي په طمعه په لاس کي ورته نیولی دی
فکر مي د یرو خطا څنګه بدرګ وختي

هستي مي ستا په هستي پوري تړلي وه
د صداقت مینه مي را تښتیدلي وه
جور و جفا مي د یار کله ګڼلي وه
تیر وتم ستا په خندا د اوبو ځګ وختي

ګیله دې نه وي دچا ډیر دردېدلـــی یمه
د تجاوز په ژبه کې ګـــــــړېدلــــی یمه
عفوه به وکړې اشناکه تیــر وتلـــــی یمه
د زړه خبرې له ما په شور و زوګ وختې

د میني پټ ساتنه عالــي همـت غــواړي
د محبت پالنه لــوی شـــرافت غــواړي
الینګاری دې مدام قدر وعزت غـــواړي
دابه قسمت وي زما بې وفا ړګ وختې

*

له مونږ ځنې غټان — ښه لوی میلونران
بانکونو شرکتونو کې لرې حق داولیت — خواخوږي دملت
رقم رقم قصرونه — والګاوې موټرونه
هو ځنیف ممار تونه

هستی او دارایي یې ده له شمار ځنې وتلي   په سترګو یې لیدلي
ډېرژر سرمایدار شي   صاحب دافتخار شي
باقدر و باوقار شي

دا هستي کیمیاوي نسخه یې یاده کړه له چانه   له کوم یوه ملا نه
ترې و به کړو پوښتنه   لږ ډېر خو پلټنه
له داسي دولتمنه

خفګان دې منځ کې نه وي د ورورۍ کوو حساب   چې خه وایې جواب
زما خواخوږی ورور   کاروان اخلي له زور
ویرېږه مه له شور

رښتیا به راته وایي چې داخه بانډې ابادشوې
داخل خارج کې یادشوې
فقیر وې تر پرونه   پریشانه حال ژوندونه
بیزار وې له ژوندونه

اوس ستا به منځ کې ګرځي ډلې ډلې نوکران   له مونږ ځنې غټان
دامال وایه دچادی   روا که ناروا دی
حلال او که دغلا دی

که ستالاس ته راغلي دي یه غدر و یه خیانت   خواخوږي دملت

هر څو چې سوچ وهمه　　سنجش په کې کومه

مدرک یې نه وینمه

خو دا رامعلومیږي چې اخستی دې رشوت دی ــ په نوم د صداقت دې

په مرګ دې دی نیولی　　په درد دې راضي کړی

جامې دې تیرې ویستلي

لوبه دې خړې کړې ښکار دې کړی د ماهیانو ــ ماهرو جالوالانو

دا څنګه ورور ولي ده　　دا څه عزیزولي ده

دا څه پښتونولي ده

په چل او په فریب دې تالا کړیدي کورونه　　افسوس وروره پښتونه

چالاکه حیله بازیې　　په هر قالب کې سازیې

په دې کار کې استاذ یې

د ښه مکتب شاګرد یې دا تعلیم درکړی چا ده[1] زما په کې سودا ده

مرض د فیشونونو　　د لوکسو تجهیزونو

بې ځایه مصرفونو.

په دې، خلکو جاري ده خدایه تر شې مهربانه

له مونږ څخنې غمجانه

له خدایه وویریږې　　له خلکو وشرمیږې

اخر یې بدنامیږې

ناوړه تقلید وکې نور و نه کړې رقابت

خواخوږی د ملت

(۱) ده - دی

د دنیا کې خواخوږي ده      د صدق غمخوري ده
وحدت او قامولي ده

زموږ خپلو منځو کې بې د بل سره غرور نشته      فکر نو د تربور شته
نن عصر د قمر دی      جهان یې ټول منور دی
زموږ مخ کې ګوتې څر دی

د ښښتیا که درته وایم شخصیاتو کې نو تباه      ګیله وکړو له چا
میدان د تظاهر کې      د خلکو په خاطر کې
پاک نفسه ځان ظاهر کې

د علما او کاروانې تصمه کړې هر یو شي بزرګ      حملې کوي د ګرګ
خدای شته چې پو هیږم ××× په چل ول نه غولیږم
حیا راځي شرمیږم

له خدایه وویریږه له کار واخله له حیانه      خفه نه شي له مانه
په ځان باندې مین یې      ملنګ د بند قیشن یې
بې ځایه کبرجن یې

دا لوڅ او وږی تږی قام په څوک کاندې وران
له موږ ځنې غنهان

مشامود او وپایه ده      په دلې کې دې سیالۍ ده
شپه او ورځې د خوارۍ ده
مثال کمال دی نشته لباسي دې دی لیاقت
خواخوږی د ملت

خود خویه خود نما شوې      خپل عشق کې مبتلا شوې

دا ولې بې حیا شوې

ربښتیا ویل ترخه دي په ربښتیا و خفه کیږي      په زړه کې به غوریږي

ورځ شته ده دحساب      د سوال او دجواب

په اور به شې کباب

په تیرو توبه گار شه آینده مه کړه ظلمونه      کوې به ارمانونه

خادم دخلق الله شه      دقام ترقي خواشه

بیا ته زما آغا شه

له سهوو ځنې تیر شه د قام وکړه خدمتونه      چې ښکل دې کړم لاسونه

دا مست لیونی چاکړې      نه ژاړم ته خندا کړې

بیا لاني د وفا کړې

قسم دی که دي رګ رګ کې یا نښه د وفا وي

یا ستا سر کې سودا وي

سر ښکته کړه ګریوان ته      تابع او سه وجدان ته

نور مه ګوره اسمان ته

په سمه لار روان شه نور مه شړه وه ځان      زموږ ځنې غټان

ای ورورو خدای لپاره      لاس واخلئ له بدکاره

نور ځه په سمه لاره

په ما الیګاري باندې لازم وه نصیحت      خواخوږی دملت

ما ته اشنا د غم د پاسه غم لیږلی دی
بیا چا لمسولی دی

د محبت په شرافت باندې قسم دی زما
په هغو اوښکو چې گریوان ورباندې نم دی زما
په حال مې یو الله خبر او بل قلم دی زما
چې د خوږه اشنا په مینه‌ی زنګلی دی

زه د اشنا خوشحالي غواړم غم یې غم گڼمه
خوږه ترخه ښه بد یې واړه محترم گڼمه
قدر یې په ځان باندې له هر چا مقدم گڼمه
په احترام مې د ده هر امر منلی دی

د مینې کور کې پیدا شوی لوی شوی لیلی یمه
مور په زانگو د محبت کې زنگولی یمه
په اشارو د تورو سترگو پوهیدلی یمه
د ازل ورځ کې خپل قسمت مې رسیدلی دی

په درد کې خوښ یم لرې درد ونه امان غواړم
په تور لحد کې به د وه سترگې د جانان غواړم
د مینې غم چې تیروي هغه سیلاب غواړم
الینگار په د اشنا غم نازولی دی

ماچې د مینې کچکول واخیسته ګدا شومه
لهٔ تش انګشت نما شومه

زه د دنیا فخر سپارمه دنیا دارو لره
شرف د سرو سپینو ببښم سرمایدارو لره
مینه مې کار دی ځم د مینې طرفدارو لره
ځکه د هرکس وناکس نه بې پروا شومه

دیارانې ساتل یو بل شانته قانون غواړي
رسم و رواج ځنې وتل لکه مجنون غواړي
قید و قیود نه قبول آزاد ژوندون غواړي
جهان د عشق کې لکه سروه سربالا شومه

ما د اشنا تور و تومت ځانته عزت ګڼلی
خلک چې هرڅه وایي ما ځېل شرافت ګڼلی
درد و تکلیف مې په همدې لکه راحت ګڼلی
خېر دی که اوس د تومتونو اشتبا شومه

زه د سیلانو له سیالۍ ځنې وتلی یمه
د محبت په جرم چم ګاونډ رټلی یمه
الېنګار یه د اشنا سترګو نیولی یمه
دبې رحمې کا پونتره نښه د هرچا شومه

PROPERTY OF ACKU 7740

مه راځه مرګیه      بې ستاله ژتلو
یار بې وفا شو تن سبا ځپله در ځمه
نور په ژوندون تنګ یم

د مخ ډیوه بې چې شو ه سبله
هلته سربازی ته راغلې په سیالۍ
سر و مال مې د وکه یار ه په جوارۍ
دې کې لوبېدمه      اور کې سوځېدمه
ژړېده شمه نه ما په کړېدو

انګار د مینې ناروا   د ی
کله مناسب وي مینه کې انګار
بې مینې چې و مرې مرګ یې دی مردار
کله وار خطا شمه      کله بې وفا شمه
بېشکه چې مسؤل یېد کا نو د یشتو

اوښکې مې ستر ګو نه جدا شوې
ور غلې اشنا ته عذر نواتي
نه شولې منظور مې په مخ باندې شوې ماتې
ور د ور و تو بدلې      ور و ور و خښېدلې
پته خوله یې ځان مرګ ته وسپاره ورو

د اشنا مینې لباسي      و ه
دا به مې قسمت و د سو مه هجران
خیر دی که زه و سوم خوش دې وي جانان
پرېږده چې سوځېږم پرېږده چې کړېږم
بخت الینګار ی سره وسوځېدو

## د دانش کتابخانې له خوا نور خپاره شوي اثار

| | |
|---|---|
| د شګې ګل | سید کمال د ننګرهار ولسي شاعر شعرونه |
| قلم او قیام | د لغمان ولسي شاعر عبدالرحمن علینګاري شعرونه |
| برګودز | دننګرهار ولسي شاعر توکل شعرونه |
| منګولې | د لغمان ولسي شاعر سید باوو جان شعرونه |
| سندریزې کیسې | د لغمان ولسي شاعر شیخ احمد خان شعرونه |
| مجنې سترګې | دلغمان ولسي شاعر بسم الله ګلکاریوال شعرونه |
| دیګونه او شعرونه | طنز شعرونه - کاتب پاڅون |
| دولتي موټر | طنز داستانونه - کاتب پاڅون |
| پندونه او خوندونه | واړه طنزونه - کاتب پاڅون |
| د بنجاره هټۍ | واړه طنزونه - کاتب پاڅون |
| سړی څنګه ښځه شوه | طنزونه - کاتب پاڅون |
| د ښار په ستدیوم کې | د مهاجرت طنزونه - کاتب پاڅون |
| دوه مخي کسان | طنز- میرزا علم حمیدي |
| وري څنګه لیوه شوه | طنز میرزا علم حمیدي |
| له ماښامه تر ماښامه | پیرمحمد کاروان شعرونه |
| چنار خبرې کوي | پیرمحمد کاروان شعرونه |
| څانګې څانګې ارغوان | نورالحبیب نثار شعرونه |
| خوته خبرې کوه | حسینه ګل شعرونه |
| د تاووس بڼکه | د مصطفی سالک شعرونه |
| رجړومه | د ګوهررحمن ګوهر شعرونه |
| ډیوټ | د ګوهر رحمن ګوهر شعرونه |
| د پښتو شعر هندسي جوړښت | د اسماعیل یون |
| افغانستان څنګه تباه شوه | جنرال رحمت الله ساپی |
| سرې لیښکرې په افغانستان کې | د داود جنبش ژباړه |

دانش کتابخانه، ډهکي نعلبندي، قصه خواني بازار - پېښور